معلومات  په چک جمهوريت کی د صيحی مراقبتو ورکولو په هکله  هغه خلکو ته چی د پناه ورکولو لپاره د خارج نه دلته رازي،  دهغوی د مهاجيريدلو په ارتباط

ډاکتران او طبي پرسونل حاظر دي چی تاسی ته په ښه توګه دنياز وړ روغتيايي خدمتونو وړاندی کړي. همدا راز کوښښ به وکړی دترجمان په واسطه له تاسی سره اړيکی ونيسي، که چيری داسی کوم ترجمان موجود ويي. باور لرو چی په ګډه هڅو باندی   به وکولای شو د معايناتو په وخت کی ستونزی   او  دخبری کولو  مشکلات چی د ژبی او د متفاوت عاداتو له کبله وجود لري له منځه ويسو. مهمه دا ده چی يو بل باندی باور ولرو  او کلکه اراده ولرو  چی د يو بل په مقصد پو شو او يو بل ته رسيدګی وکړو.

---

**د قانون له مخی په چک جمهوريت کی  د صيحی مراقبتو خدماتو ورکول په ځانګړې توګه د رسمی جريدی .Sb ۳۷۲/۲۰۱۱ نمبر قانون چی دصيحی  خدماتو په هکله دی ورکول کيږي.**

- صيحی خدمات تاسی کيدای شي درکړل شي يو وازی د تاسی د**آزادا** نه **او آګاهانه موافقی په اساس** - پرته له هغه استثنايي حالاتو نه (چی لاندی ذکر شوي دي) تاسی پدی توګه کولای شي   صيحی خدمات رد کړي.
- صيحی خدمات تاسی ته **د ښه نيت په اساس تاسی  ته دګتی رسولو لپاره** درکول کيږي، او دا هم د علم  او طبي عملو د اصولو سره سم  چی په چک جمهوريت رسميت لري.

---

**د صيحی خدماتو ورکولو په جريان کی  حق لري**

- د صيحی خدماتو د ورکولو ماهيت سره سم  احترام ته،  د انساني سلوک ته، دتاسی  محرميت او شرم په نظر کی نيول او مراعاتولو ته.

- چی تاسی د دی کړنو او د هغوی د ماهیت او جریان سره یې اشنا شي، او د طبی ځای (شفاخانه) د بستر دا خلی نظم سره اشنا شي.
- چی تاسی سره دتاسی کوم نږدی کس پاتی شي او یا هم کوم بل کس چی هغه تاسی د مریض توګه ځان ته ټاکي، او دا هم د داخلی نظم د اوصولو سره سم، او کی چیری د دی کس موجودیت تاسی سره د صیحی خدمت ورکول نه مختل کوي.
- چی تاسی سره د تاسی قانونی نماینده (او یا هم هغه څوک چی دتاسی دقانونی نماینده له خواه ټاکل شوې یي) په دوام داره توګه پاتی شي، حق لري پرستار ته، او یاهم سرپرست ته او دا هم که چیری تاسی سغیر ماشوم اوسي او یا هم داسی کوم کس اوسي چی دتاسی حقوقي وړتیا محدود ه اوسي.
- چی د روغتیایي کارکوونکو او د نورو مسلکی کارکوونکو نومونو باندی چی تاسی ته د صیحی خدماتو ورکولو کی مستقیم سهم لري پوه شي.
- چی دهغو خلکو موجودیت نه چی تاسی ته په مستقیمه توګه د صیحی خدماتو ورکولو کی سهم نلري ډډه وکړي.
- چی تاسی د صیحی خدماتو ورکولو دجریان او دهغوی د نتیجی په هکله دتحریری راپور ورکولو غوښتنه وکړي
- په طبی ځای (شفاخانه) کی په بستر شوی ځای کی دروحانی یا دینی مواظبت او روحانی یا دینی ملاتړ اخیستلو امکانات ولري دعسوی مذهبو کلیساګانونه او د دینی ټولنو نه چی په چک جمهوریت کی په رسمی توګه ثبت دي او یاهم د هغی خلکو نه چی دروحانی یا دینی فعالیتو لپاره ټاکل شوی دي او دا هم د داخلی نظم او اصولو سره سم په هغه توګه چی دنورو مریضانو حقوق له منځه لاړ نشي، دمذهبی کس راتړ نه نشی کیدای ډډه وشي په هغه صورت کی چی د ژوند خطر او یا هم صحت د ضر ر رسولو خطر وجود ولري (که چیری دا موضوع کوم بل قانونی حکم په بل ډول نه وړاندې کوي).

---

**دمریض بی له موافقی نه** کیدای شي چې یووازی عاجل مراقبت (تداوی) ورکړ شي، او دا هم په هغه حالت کی چی مریض دصیحی وضع له امله نشی کیدای دا موافقه څرګنده کړي

(ولی  دا دهغه پخوا څرگنده  شوی هیلې باندی کوم اغیز نه لري) او یا هم  د جدي رواني اختلالاتو د درملنې په حالت کی، که چیری د هغه د نه درمل کولو په نتیجه کی دټولو احتمالاتو سره دهغه صحت په جدی توگه د خطر لاندی اوسي.

**مریض کیدای شی چی دهغه د  بی موافقې نه هم تداوی  شي (یا په شفاخانی کی بستر شي) که چیرې**

- د انزوا، قرنطین  امر و رکړ شوی يي او یا هم د  عامې روغتیا د ساتنې لپاره د قانون له مخې دتداوی امر ورکړ شوی يي
- په مستقیمه او په جدی توگه ځان ته او خپل شاوخواه نورو خلکو ته خطر رسوي او دروانی ناروغي نښي وښي، او یا  په دې ناروغي اخته وي ا و یا هم  د مخدره موادو دی تاثیر لاندې اوسي، که چیری نشی کیدای  د مریض نه او یا هم د هغه شاوخواه نه دخطر مخه په کومه بله توگه ونیول شي.
- دهغه دصیحی حالت   د اضطراری   مواظبت (تداوی) ورکولو ته اړتیا ولري  او په ورته وخت کې نشی کولای خپل رضایت څرگند کړي.
- سغیر مریض کس اوسي او یا هم  داسی کوم مریض کس اوسي چی دهغه  حقوقي وړتیا محدود ه اوسي،  په هغه صورت کی چی دبد رفتاری،  ظلم ، سوءاستفادی ا و بې پروایۍ شکمنی گمان موجود اوسي.